مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۲مه | ۴۳۱مه گڼه

# وکیلان: د فساد او کمزوري مدیریت له امله د افغانستان او امریکا اړیکې ترینګلې شوې دي



۳

## له ټاکنو وړاندې د لانجې تصویر

۲ مخ

## آیا د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره تړاو لري؟

۲ مخ

## پنجاب ته چا ډېر تاریخي خدمت وکړ؟!

۳ مخ

## د امریکا د سولې انستېټیوټ: نړیوال مرستندویان له ملي یووالي حکومته ناراضه دي

نړیوال مرستندویان نور پر ملي یووالي حکومت باور نه لري او له کاره یې ناراضه دي.

دا نارضایتي او اختلافات تر دې کچې رسېدلي چې اوس آن افغان حکومت ته د افغانستان په اړه د مرستندیانو په خورا مهمو غونډو کې د ګډون او هلته د خپلو لومړیتوبونو د بیانولو بلنه هم نه ورکول کېږي.

د مرستندویه هېوادونو او نړیوالو ادارو استازو همدا تېره پنجشنبه هم په لندن کې د افغان حکومت په غیاب کې د افغانستان په اړه ناسته درلوده، چې د سولې د پروسې د بریالي کېدو او پرمختګ پر لارو چارو پکې بحث شوی دی.

رپوټونه وایي، دا له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د افغانستان په تړاو د نړیوالو مرستندویانو لومړنۍ دومره مهمه غونډه وه، چې د افغان حکومت استازو پکې حضور نه درلود. د امریکا د سولې انستېټیوټ په یوه راپور کې ویلي چې د افغان حکومت او نړیوالو مرستندویانو اختلافاتو د افغان سولې بهیر له خطر سره مخ کړی دی.

په دغه راپور کې راغلي: «د افغان حکومت څنډې ته کېدل چې دا کار یې تر ډېره پخپله پر ځان تحمیل کړی، د افغانستان د ثبات او پرمختګ لپاره یو خطر دی. که امریکا د دوامداره سولې هیله لري، نو د سیمه ییز ثبات او د افغانانو د ګټې لپاره دا مهمه ده چې د مرستو په برخه کې اختلافات ژر د خبرو له لارې حل شي». د امریکا د سولې انستېټیوټ ټینګار کوي، چې افغانستان د سولې د پروسې د بریالیتوب او تر هغې وروسته د خپل خراب اقتصادي وضعیت د رغولو لپاره له نړیوالو سره متحدو هڅو ته اړتیا لري.

## د امریکا او طالبانو خبرې بیا پیلېږي، خو پکار ده چې ورسره یو ځای بین‌الافغاني خبرې هم پیل شي



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ


## الفلاح خصوصي پوهنتون

د الفلاح پوهنتون رییس وایي، په پنځو فعالو پوهنځیو کې یې د تدریس چارې د ۱۰۸ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ډېری یې د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري.





## په بلخ کې نږدې سلو بېوزله ښځو ته چرګان وېشل شوي دي



د لاس پر لاس په نوم یوه خیریه بنسټ د بلخ په خُلم ولسوالۍ کې له سلو پر زیاتو ښځو د چرګان او د هغوی د ساتنې وسایل وېشلي دي.

په بلخ کې د یاد بنسټ مسوول احمد کامران حکمتي د دغو مرستو د وېش پر مهال ویلي چې د دوی دغه پروګرامونه له ډېرې مودې راهیسې د هېواد په ګوټ ګوټ کې روان دي او موخه یې دا ده چې له بېوزله کورنیو سره په دې برخه کې مرسته وکړي. په ورته وخت کې هغو ښځو چې دغه مرستې یې تر لاسه کړې، وایي چې په دې سره به د دوی اقتصادي ستونزې تر یوې کچې حل شي، خو ټینګار کوي چې دا یې ټولو ستونزو ته بسنه نه کوي.

د راپورونو له مخې، اوسمهال د بلخ زیاتره بې وزله ښځې د چرګانو پر روزنې سربېره، پر کرنه، مالدارۍ او لاسي صنایعو بوختې دي او له دې لارې خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کوي.

## نبیل: رئیس جمهور غنی خط دیورند را هم‌چون مرز میان افغانستان و پاکستان به رسمیت شناخته‌است



حضور مقام‌های حکومت افغانستان در مراسم گشایش فعالیت‌های ۲۴ ساعتهٔ گذرگاه تورخم، که در دروازهٔ آن، تورخم مرز رسمی میان افغانستان و پاکستان نگاشته شده‌است، واکنش برانگیز شده‌است. مراسم گشایش فعالیت ۲۴ ساعتهٔ گذرگاه تورخم سه روز پیش برگزار شد و در آن عمران خان، نخست‌وزیر پاکستان و شماری از مقام‌های حکومت افغانستان به شمول والی ننگرهار و سرپرست وزارت فواید عامه حضور داشتند.

رحمت‌الله نبیل، رئیس پیشین امنیت ملی و نامزد انتخابات ریاست‌جمهوری می‌گوید، اطلاعاتی دارد که رئیس‌جمهور غنی برای منافع شخصی‌اش، خط دیورند را هم‌چون مرز میان افغانستان و پاکستان به رسمیت شناخته‌است. آقای نبیل می‌افزاید که برنبیاد اطلاعات او، پاکستان از یک تا بیست کیلومتر سیم خاردار را از نقطهٔ صفری به درون خاک افغانستان کشیده‌است و در این منطقه‌ها شناس‌نامه‌های پاکستانی را توزیع کرده‌است. وی افزود: «همیشه چنین معامله‌هایی برای بدست آوردن قدرت است. تاریخ، این را ثابت کرده‌است. من فکر می کنم که دلیل رئیس‌جمهور نیز همین باشد».

آقای نبیل می‌افزاید: «اگر رئیس‌جمهور واقعاً در برابر پاکستان و مداخلهٔ این کشور می کوشد پس بیاید حداقل یک خبرنامه یا اعلامیه در این باره پخش کند».

در تاریخ پاکستان، این نُخستین‌باری است که از تورخم هم‌چون مرز میان دو کشور با حضور مقام‌های حکومت یاد شده‌است.

این کار واکنش تُند حامد کرزی، رئیس‌جمهور پیشین را نیز برانگخیته‌است: «این به این معناست که افغانستان آزاد نیست».

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com  Shigal English Academy  www.shigal.edu.af  +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### له ټاکنو وړاندې د لانجې تصویر

د ټاکنو په تړاو وروستي بدلونونه لا هم داسې دي چې ښکاري موږ له لانجو، درغلیو، ګډوډیو او ناقانونیو یوې ډکې پروسې ته روان یو. د ټاکنو په تړاو سر له اوسه د پراخو ستونزو تصویرونه دي. هره ورځ په ټاکنیزو منډو تړړو کې دولتي امکانات کارول کېږي او قانون نقضېږي، خو هېڅوک نشته چې د دغو کړنو مخه ونیسي. له بله اړخه د ټاکنو پر کمېسیون هم پراخې نیوکې دي چې نه دی توانېدلی، د ټاکنو په اړه پوره تیاری ونیسي. ویل کېږي چې ځینو سیمو ته ټاکنیز مواد نه دي رسېدلي، په ډېرو سیمو کې موقت کارکوونکي نه دي نیول شوي. د هغوی نیول او روزل وخت غواړي، خو ټاکنو ته یوازې شپږ ورځې پاتې دي. له بله اړخه ویل کېږي چې د مرکزونو د ترېښت او پرانیستې په چاره کې هم ستونزه شته. په ځینو امنو سیمو کې مرکزونه تړلي دي، خو په ډېری ناامنو سیمو کې ډېر مرکزونه پرانیستي دي. له همدې امله سر له اوسه د پراخو درغلیو او ناقانونیو وېره شته.

کم داسې کاندیدان به وي چې د درغلیو لپاره تیاری نه لري، خو پیاوړي کاندیدان د پراخو درغلیو لپاره تیاری لري. سر له اوسه دوی نه یوازې په ټاکنیزو کمېسیونونو کې له خپل نفوذ نه ګټه اخلي، بلکې نور حکومتي واک او ځواک هم کاروي چې درغلي وکړي. ویل کېږي چې دولت ساز ټیم په دې چاره کې مخکښ دی، خو د ثبات او همپالنې ټیم هم چې څه دولتي امکانات کارولی شي، مخ ترې نه اړوي.

اوس د درغلیو لپاره دغو تیاریو ته په کتو ښکاري چې راتلونکې ټاکنې به له پراخو ستونزو ډکې وي. ښايي د ډېرو درغلیو اسناد او شواهد هم راښکاره شي او دا چاره به بیا له نورو کاندیدانو سره مرسته وکړي، چې د ټاکنو پایله ونه مني. په دې سره موږ راتلونکې ټاکنې د واک د مشروع لېږد لوري ته نه، بلکې د لانجو او ستونزو لوري ته وړي. تر دې مهمه دا چې د بهرنیانو لخوا هم داسې پیغامونه ورکول کېږي چې ګواکې ستونزه پېښېږي. هغوی یو ځل هڅه کوي چې په ټاکنو کې درغلی وشي او بیا دا درغلی د خپلو سیاسي موخو لپاره وکاروي. همدا چې امریکایي چارواکي بیا بیا د رڼو، عادلانه او سراسري ټاکنو غږ کوي، د دې مانا دا نه ده چې دوی رښتیا همداسې ټاکنې غواړي، بلکې دوی غواړي له ټاکنو وروسته همدا خبرې د خپلو سیاسي موخو لپاره وکاروي. بهرنیان، په ځانګړي ډول امریکایان نه غواړي چې واک سم ولېږدول شي، بلکې غواړي لانجه جوړه کړي او بیا د ۲۰۱۴ میلادي کال په شان لاسوهنه وکړي او موږ ته یو ناقانونه حکومت جوړ کړي.

همدغو ستونزو ته په کتو، پکار ده چې یو ځل بیا پر دې فکر وشي چې را روانې ټاکنې موږ ته د واک د مشروع لېږد زمینه برابروي او که موږ د ناقانونۍ، لانجې او ستونزو لوري ته وړي. که موږ د لانجې او ستونزې لوري ته روان یو، نو بیا پکار ده چې پر ټاکنو له سره غور وشي او په لوی لاس ځان ته لانجه پیدا نه کړو.

# آیا د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره تړاو لري؟

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د هند اوسنی دولت چې مشري یې د بي جې پي ګوند مشر نریندرا مودي کوي، تر څه باندې ۷۰ کلونو وروسته په تېره اګست میاشت کې د هند تر ولکې لاندې کشمیر په اړه د اساسي قانون ۳۷۰مه ماده، چې له مخې یې کشمیر ته ځینې ځانګړي امتیازات ور کړل شوي وو او د یوې آزادې سیمې حیثیت یې درلود، له منځه یوړه. له دې وروسته پاکستاني چارواکو د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره تړلې وبلله، دا چې په رښتیا د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره مستقیم تړاو لري او که نه؟ په دې تحلیل کې پرې شننه شوې ده.

**د کشمیر کړکېچ ته ځغلنده کتنه**

له ۱۹۴۰ میلادي کال را وروسته چې هند او پاکستان د برېټانیې له امپراتورۍ آزادي تر لاسه کړه، دواړه هېوادونه ادعا کوي چې کشمیر یې د هېواد برخه ده. د کشمیر په تړاو له یو بل سره د دوی له دریو تر سره شویو جګړو څخه دوه هغه یې د کشمیر پر سر تر سره کړې دي، چې شاوخوا اویا زرو کسانو پکې خپل ژوند له لاسه ور کړی دی. د نړۍ د نورو سیمو په پرتله، د کشمیر پر سیمه زیات نظامي ځواکونه ځای پر ځای شوي دي او ځایي کشمیریان بیا د هندي ځواکونو له شتون سره سخت مخالف دي او د هغو کسانو ملاتړ کوي، چې د هندي ځواکونو پر ضد ودرېږي.

**د ۳۷۰مې مادې له منځه وړل او د کشمیر اوسنۍ وضعیت**

د روان کال د اګست میاشتې په پنځمه نېټه د هند لخوا تر ۷۰ کلونو وروسته، د اساسي قانون ۳۷۰مه ماده چې له مخې یې د هند تر ولکې لاندې کشمیر ته ځانګړي امتیازات او واک ور کړل شوی و، له منځه یوړل شوه. د دې مادې له مخې د هند تر ولکې لاندې کشمیر یوه خودمختاره سیمه وه، د هند د نورو برخو اوسېدونکو نه شو کولی چې دلته ځمکې وپېري، د دې سیمې خلکو خپل اساسي قانون او خپل ځانګړی بیرغ درلود. مګر د دفاع، بهرنیو چارو او ارتباطاتو په برخو کې بیا د مرکزي دولت تر رسمي اغېزو لاندې وو، خو د دې مادې له ختمېدو وروسته کشمیر د هند د نورو آیالتونو په څېر حیثیت غوره کړ، اوس د نورو آیالتونو خلک کولی شي دلته ځمکې واخلي او سرمایه ګذاري وکړي، له دې سره د دې سیمې ځانګړی حیثیت نور ختم شو. اوس ډېر هندي ځواکونه هلته ځای پر ځای شوي، ګرځبندیز لګېدلی او ډېری سیاسي مشران او مظاهره چیان نیول شوي دي. د کشمیر پخوانی وزیر عمر عبدالله د یادې مادې له منځه وړل، د هندي حکومت یو اړخیزه پرېکړه بللې او اوسنۍ وزیرې محبوبې مفتي چې د ۳۷۰مې مادې تر ختمېدو وروسته په کور کې نظر بنده شوه، د اګست پنځمه نېټه د هند د ډیموکراسۍ لپاره توره ورځ ونوموله او د هند پر اوسني واکمن ګوند یې توندې نیوکې وکړې. د نړیوالو ورځپاڼو پر بنسټ، هندي ځواکونو په سرینګر کې زیات کسان شکنجه کړي، تلیفون او انټرنېټي خدمتونه تم شوي، روغتیایي مرکزونه یا بند دي او یا په ټیټه سطحه خدمات وړاندې کوي، تعلیمي اداري بندې دي او ورځ چارې هم په ټپه ولاړې دي او دا لړۍ لا دوام لري.

**د کشمیر ستونزه د نړیوالو له نظره**

د اسلامي همکاریو سازمان په ګډون، ترکیې او ځینو نورو هېوادونو د کشمیر پر مسئله جدي غبرګونونه ښودلي، پاکستان بیا نړیوالې ټولنې ته رسماً شکایت کړی چې پر مظلومو کشمیریانو د هندي ځواکونو د ځورونې مخه باید ونیسي. د جینوا حقوقو کنوانسیون ۴۲مې غونډې ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي د کشمیر ستونزې په اړه وینا وکړه او د هند له زور زیاتي او ځورونو څخه یې نړیوال خبر کړل، چې هند شوې ادعاوې په یو سر رد کړې. هند بیا وایي، دا یې داخلي موضوع ده او چا ته دا حق نه ورکوي چې په دې اړه څرګندونې او مشورې ورکړي او ادعا کوي چې هندي ځواکونه د بشر حقونو ته پوره احترام لري او یوازې د بېلتون غوښتونکو مخه نیسي او د ۳۷۰مې مادې له منځه وړل یې کشمیریانو او په ټوله کې هېواد ته د پرمختګ ګام بللی.

پاکستان بیا د هند تر ولکې لاندې کشمیر د هند له لوري په ناوړه توګه نیول شوې سیمه ګڼي او د ځان حق یې ګڼي. په همدې پار یې د چین، ترکیې او اسلامي هېوادونو په ګډون، د نړیوالې ټولنې دروازې د ملاتړ خپلولو لپاره ټکولې دي. له چین او ترکیې پرته، نورو هېوادونو د کشمیر ستونزه د پاکستان او هندوستان خپلمنځنۍ ستونزه ګڼلې او په دې اړه یې دواړو هېوادونو ته د حللارې موندلو غږ کړی دی.

د متحده عربي اماراتو حکومت بیا د هند تر ګام اخیستو وروسته، د هند لومړي وزیر ښاغلي مودي ته عالي دولتي نښان هم ورډالی کړ، چې یاد کار بیا په پاکستان کې سخت غبرګونونه راوپارول او د اماراتو د شیخ دا کار یې د مظلومو کشمیریانو په حق کې ستر او نه بخښونکی ظلم او زیاتی یاد کړ.

**افغان سوله او د کشمیر ستونزه**

د پاکستاني چارواکو هغه ادعاوې چې د کشمیر مسئله له افغان سولې سره اړوند بولي، په ټولیزه توګه بې بنسټه دي. په دې اړه د پاکستاني چارواکو له ډلې د شهباز شریف هغه خبرې چې د کشمیر ستونزه یې له افغان سولې سره تړلې وه او عمران خان یې پړ بللی و چې د افغان سولې پر وړاندې یې له ولسمشر ټرمپ سره پر کشمیر معامله کړې، نه یوازې دا چې په خپله د لومړي وزیر عمران لخوا رد شوې، بلکې د کشمیر په اړه یې د ټرمپ څرګندونې د سویلي آسیا د اقتصادي پرمختګ برخه وګڼلې. او بل دا چې په تاریخي لحاظ د افغانستان او کشمیر ستونزې له یو بل سره هېڅ تړاو نه لري، ځکه د کشمیر په مسئله کې د افغانستان خلکو تل له مظلومو کشمیریانو سره د پیل شوي ناورین د ختمېدو هیلې څرګندې کړې دي. د پاکستاني چارواکو دا بې ځایه ادعاوې نه یوازې دا چې د هند نفوذ کمولو او د نړیوالو پام را اړولو یو بې اساسه هیله ګڼل کېږي، بل څه نه شول بللی. مظلوم کشمیریان باید پرېښودل شي څو خپل راتلونکی برخلیک په خپله وټاکي او نړیواله ټولنه هم باید په دې اړه کوټلي ګامونه واخلي او پرې نږدې چې نور د کشمیر مظلوم خلک یو تیاره راتلونکی ولري.

له دې انکار نه شي کېدلی چې په هر هېواد کې بې ثباتي کولی شي اړوندې سیمې په غیر مستقیم او مستقیمه توګه اغېزمنې کړي، خو دا چې پاکستاني چارواکي د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره په مستقیم ډول نښلوي، دا یوازې د دو ګاونډیو هېوادونو په توګه د افغانستان او پاکستان د اړیکو خرابولو کې مرسته کولی شي او بس. ځکه د کشمیر ستونزه یوه له هغو پېچلو ستونزو څخه ده، چې له لومړي وخت څخه له پامه غورځولې شوې، خو له بده مرغه هند او پاکستان غواړي چې له افغان کشالې څخه د کشمیر ستونزې په برخه کې ناوړه ګټه پورته کړي او افغانستان یې د خپلې سیالۍ ډګر ګرځولی چې دا بیا افغان ولس ته په هېڅ قیمت د منلو وړ نه ده.

د کشمیر په اړه د هند او پاکستان غلطو پالیسیو د سیمې او افغانستان په څېر هېواد اقتصادي وضعیت چې بحر ته لار نه لري او له هند سره یې سوداګري د پاکستان له لارې په آسانۍ سره تر سره کېږي، هم له نامعلوم راتلونکي او وېرې سره مخ کړی. او دا چې په وروستیو کې پاکستان د افغان سوداګرو د آسانتیا او د خپلې اقتصادي ځوړتیا رغولو لپاره اړین ګامونه اخیستي، خو بیا هم وېره شته چې د کشمیر ستونزه دا پرمختګونه ټکني او اغېزمن کړي، د سیمې سوداګرو ترمنځ یې د امن او راکړې ورکړې په اړه اندېښنې زیاتې کړې، خو بلخوا دا کار کولی شي تر ټولو زیات زیان پاکستان ته چې له اقتصادي ستونزو سره مخ دی، ورسوي؛ ځکه افغانستان اوس د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره له پاکستان پرته نورې بدیلې لارې هم لري، څو افغان سوداګر وکولی شي له هغو بدیلو لارو څخه خپلې راکړې ورکړې تر سره کړي. که چېرته امریکا دواړه هېوادونه پاکستان او هند د سیمې د بې ثباتۍ او له افغانستان څخه د سیالۍ ډګر په حیث ګټې اخیستنې څخه را ونه ګرځوي، نو دا کار کولی شي په راتلونکي کې د سیمې امنیت له خنډ سره مخ کړي. بلخوا چین چې د کشمیر په مسئله کې د پاکستان پلوي کوي، باید له خپل ستراتیژیک او سیمه ییز رول څخه په ګټې اخیستنې دواړه هېوادونه هند او پاکستان د کشمیر مسئلې پر سر یو تل پاتې حل موندنې ته راوبولي، څو د مظلومو کشمیریانو ځورونې او بې ځایه وژنې پای ته ورسیږي. که چېرته چین دا کار تر سره نه کړي، نو په سیمه کې د چین لویې اقتصادي پروژې لکه سي پیک (CPEC) او ون بیلټ ون روډ هم له ستر خنډ سره مخ کېدلی شي، دا ځکه چې د چین د لویو اقتصادي پروژو د پلي کېدو لپاره د سیمې امنیت خورا ډېر اړین دی.

**پایله**

د پاکستاني چارواکو هغه ادعاوې چې د کشمیر ستونزه له افغان سولې سره تړلې بولي، په ټولیزه توګه بې بنسټه دي او د کشمیر د مظلومو خلکو او مسلمانانو ستونزه چې له تېرو اویا کلونو راهیسې د پاکستان او هندوستان ترمنځ روانه ده، باید په اړه یې د یو تل پاتې حل موندنې لپاره کار وشي او نور پرې نښودل شي یاده سیمه چې له اقتصادي، فرهنګي او تاریخي لحاظه ځانګړې ارزښت لري، دې دواړو هېوادونو د ناوړه سیاستونو ښکار شي. د اسلامي همکاریو سازمان، نړیواله ټولنه او په ځانګړې توګه اسلامي هېوادونه باید نور د مظلومو کشمیریانو غږ واوري او په اړه یې ملامته خاموشي نوره پای ته ورسوي او د هغوی حقونو ته باید ځانګړې پاملرنه وشي او د دې کار له تر سره کېدو سره به نه یوازې د کشمیر ښکلې سیمه له روانو ناخوالو څخه خلاصه شي؛ بلکې د سیمې او په ځانګړې توګه د افغان سولې په اړه بهانې چې پاکستاني چارواکي یې کوي، هم پای ته ورسیږي او افغانستان په نږدې راتلونکي کې یوې تلپاتې سولې ته ورسیږي.

## تازه موندنې: له نوملیکنې وروسته بې ځایه شوي به له رایې اچونې محروم وي

د بي بي سي تازه موندنې ښيي چې هغه شمېر کورني کډوال له رایې ورکونې محرومیږي، چې د نوملیکنې له مرکزه لرې سیمو ته بې ځایه شوي دي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم منلې چې د ټاکنو په ورځ هغو کسانو ته د رایې ورکونې ځانګړې اسانتیا نه لري، چې له نوملیکنې وروسته بلې سیمې ته کډه شوي وي.

که څه هم د هغو کورنیو بې ځایه شویو کره شمېر نه دی معلوم چې ټاکنو ته له نوملیکنې وروسته یې خپلې مېنې پرېښې، خو د کډوالۍ نړیوال سازمان وایي چې په تېرو اتو میاشتو کې نږدې نیم میلیون افغانان په کور دننه بې ځایه شوي دي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان ویلي، د ۲۰۱۹ میلادي کال له پیله تر دې دمه، نږدې نیم میلیون افغانان بې ځایه شوي، خو نه دوی او نه هم نور بنسټونه دا معلومات لري چې له دې ډلې څه شمېر کسانو ټاکنو ته نوملیکنه کړې ده.

د ټاکنو د نوې تګلارې له مخې، رایه ورکوونکي باید خپله رایه هغه مرکز کې وکاروي، چېرته یې چې نوملیکنه کړې ده.



د دغه کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات ویلي، کورني بې ځایه شوي کسان هم د همدې تګلارې په چوکاټ کې راځي او کمېسیون دوی ته کوم ځانګړی پروګرام نه لري. هغه زیاته کړې: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون د شته نافذه قوانینو په بنسټ مجبور دی، چې ګام پر ګام پرمخ لاړ شي او دغه قانونونه پلي کړي. په قانون کې څرګنده شوې ده چې هر هغه کس چې په کوم مرکز کې د ټاکنو لپاره نوملیکنه کړې وي، باید همغه ځای کې رایه ورکړي».

سادات ویلي، دوی د تقویتي نوملیکنې پر مهال چې شاوخوا دوې میاشتې مخکې تر سره شوه، خلکو ته دا اسانتیا ورکوله چې د یوې فورمې په اخیستو، د رایه ورکونې ځای بدل کړي.

نوموړي زیاته کړې، یوازې نږدې ۱۷ زرو کسانو دا کار کړی، خو له تقویتي نوملیکنې وروسته په شاوخوا دوو میاشتو کې زرګونه نور کسان له خپلو مېنو بې ځایه شوي دي.

د کورنۍ بې ځایه کېدنې د څارنې نړیوال مرکز ویلي چې اوسمهال په افغانستان کې څه باندې دوه نیم میلیونه کسان په کور دننه بې ځایه شوي دي.



# پنجاب ته چا ډېر تاریخي خدمت وکړ؟!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

هغه ملتونه، هېوادونه او حکومتونه تل پیاوړي پاتې شوي چې پر خپل ولس، تاریخ او ارزښتونو یې تکیه کړې، پاللي یې دي او د غني کولو په لار کې یې مخکښانو د وخت د هر بدمست پر وړاندې سختې سیالی او قرباني ته چمتو شوي چې نوموتې بېلګې یې د ماوتڅه چین، د پوتین روسیه، اخوندي ایران، اردوغاني ترکیه، د لي کوان یو سینګاپور او د شیخ مجیب الرحمن بنګله دېش دي. دا دې هغو هېوادونو له ډلې دي چې سیاسي رهبران او ولسي ـ ملي مشران یې یوازې پر خپل ولس د تکیې او باور پر مټ پاتې شوي، رغېدلي او نن په نړیوال سیاست او نظم کې د خبرې او دریځ څښتنان دي.

مګر زموږ په وطن کې د افغان ولس د نرخ، چم، دریځ او تاریخ خلاف، سیاسي رهبران او واکمن حکام نه یوازې دا چې له دې ټولو څخه پردي او پر وړاندې یې غبي دي، بلکې پوپولیستي، شعاري او پر سیاسي ډانګماری ولاړو کړنو سربېره، غواړي عملاً حقایق جعل او له خپلو خیانتونو، ناروا کړنو او بدرنګو معاملو سره د ولس په سترګو ورننوځي.

هغه چې شرموونکې بېلګې یې د امریکا شتون، له دغه تاړاکګر هېواد سره د افغانانو د وژلو لعنتي امنیتي تړون او په ځانګړي ډول د ابن غلامانو د مینځلو او سپین چرګ کېدلو په بحث کې له پاکستان سره د چپیانو تنظیمیانو، طالبانو او په ځانګړي ډول د ملي خیانت په موضوع کې د تبلیغاتو او پروپاګند په دې ګرم بازار کې له پاکستان سره د ملي خیانت پر معیارونو د طالبانو او غني د معاملو جاج دي.

شخصاً ولسمشر، سلاکاران، ویاندویان، د امنیتي ادارو چارواکي او په ټوله کې د ډاکتر غني ټیم چې کله هم د سولې خبرې تودې شي، یا په لویو ښارونو کې د طالبانو په ادرس یوه امنیتي پېښه وشي او یا په یو بحث کې غواړي ځان خپلواک وښیي، نو پر طالبانو د نورو لسګونو تورونو او تهمتونو ترڅنګ، له پاکستان سره د دوی د اړیکو او دا چې دوی د پنجاب تر اغېزې لاندې او د پنجاب په خدمت کې دي، دې ته ورته پوښتنې کوي او په مقابل کې ځان د پنجاب خلاف داعیې سپین چرګ سرلاري ګڼي.

مونږ به په لاندې عنوان کې پنجاب ته د غني او طالبانو د تاریخي خوش خدمتیو هغه چې پاکستان په خپل ټول تاریخ کې نه وو تر لاسه کړي، د چا لخوا او څرنګوالي بربنډې بېلګې وړاندې کړو.

**د پنجاب لپاره تاریخي خدمت چا وکړ؟!**

۱ ـ د ملي امنیت پخواني مشر رحمت الله نبیل څه موده وړاندې له یوه خصوصي ټلوېزیون سره په مرکه کې په ښاغلي غني تور پورې کړ، چې له پاکستان څخه یې څه باندې ۷۰ میلیون ډالر د ډیورنډ فرضي کرښې پر سر د یوې معاملې په ترڅ کې اخیستي، هغه څه چې له دې وړاندې هم په نړیوالو رسنیو او کور دننه کې پرې تاوده رسنیز بحثونه شوي دي.

۲ ـ د ولسمشر غني په واک او حاکمیت کې عملاً د پاکستاني حکومت له لوري په تورخم او چمن کې سرحدي دروازې جوړې شوې، کوم چې د ولس له ټینګ غبرګون سره مخ شوې، خو د غني ویاندویانو به دا هر ځل ردولې، مګر د تېرې چهارشنبې په ورځ د تورخم دروازې د ۲۴ ساعته پرانیستلو په پلمه د پاکستان لومړی وزیر له اسلام اباده د خپلې کابینې له کلیدي وزیرانو سره تورخم ته راغی، هلته له افغان لوري څخه د ننګرهار والي میاخېل او د ټولګټو وزیر یما یاري د پاکستان خاورې ته واوښتل او د رسنیو په مخ کې یې یوه لوحه چې ښودله یې تورخم د یوه رسمي سرحدي باډر حیثیت او تورخم یې دروازه ده، پرانیسته وکړه. پاکستانیانو د دې لپاره د ډول، نڅاه، سرو فرشونو، ډومبکانو او بیرغونو د ځانګړي ښه راغلاست مراسم هم نیولي وو.

دې چارې، د عمران خان ځانګړي رسنیز کنفرانس او د افغان ولس د شدید غبرګون سربېره، د ډاکتر غني د حکومت بې شرمانه چوپتیا د دې ښودنه کوله چې تر کاسې لاندې نیم کاسه شته او دا د ښکاره معاملې هغه کرغېړن انداز و.

۳ ـ بل لور ته د ډیورنډ پر کرغېړنه کرښه د پنجاب لخواه نړدې دوه کاله کېږي چې اغزن تار تېریږي، هغه تار چې ټول لګښت یې امریکایان ورکوي، مګر د افغان حکومت له لوري په دې اړوند د ولس او سیاستوالو له جدي اعتراضونو سره سره، تر اوسه یو ګام څه چې یو عادي رسنیز دریځ هم نه دی نیول شوی.

۴ ـ د کونړ، ګوشتې او کندهار ځینې افغان سیمې د یوې معاملې په ترڅ کې پنجاب ته پرېښودلی شي، ولس او رسنیو دا موضوع راپورته کړله، ولې حکومت یې پر سر لا تر اوسه هم پټه خوله دی.

۵ ـ د ډاکتر غني په حکومت کې ټول هغه بلوڅ ملتپاله لکه اجمل بلوڅ چې د کندهار په پرامنه سیمه عینو مېنه کې اوسېده، ترور شو او دېته ورته ډېر نور ووژل او یا په نښه شول، هغه چاره چې مطلقاً د استخباراتي معاملو بوی ترې راځي.

٦ ـ لطیف الله محسود چې د پنجاب سرسخت دښمن و او دغه خوځښت د مسیدو یو تاریخي ـ مذهبي جریان دی، چې تل یې پنجابي ـ پاکستاني حکومتونو ته د محکوم افغانستان په خاوره کې خندونه راولاړ کړي، د غني حکومت د پنجاب دا دښمن د یوې استخباراتي معاملې په نتیجه کې پنجابیانو ته لاس تړلی وسپاره.

۷ ـ د پاکستاني طالبانو مشر ملا فضل الله هم له پنجاب او امریکا سره په معامله کې لومړی ونیول شو، بیا یې امریکا ته ځای وښودل شو او وروسته ووژل شو.

۸ ـ د آی اېس آی مامورین د ډاکتر غني په معامله کې ارګ ته راوستل شول، په ارګ کې وساتل شول او په اخیر کې د امنیت په زندانونو کې د پنجاب ضد زندانیانو دوسیې یې وپلټلې او هغه ټارګېټونه چې هدف وو، تر لاسه یې کړل.

۹ ـ ډاکتر غني د سولې په سر معاملې لپاره د پنجاب پوځیانو پر قبرونو د ګلونو ګېډۍ کېښودې.

۱۱ ـ د ډاکتر غني په وخت کې پر پښتنو قبایلو د ډیورنډ پر پوله د اوښتو را اوښتو بندیز او پر سر یې معامله وشوه.

۱۲ ـ له پاکستان سره د استخباراتي معلوماتو شریکولو تړون ډاکتر غني په ارګ کې د ای اېس ای له مشر سره لاسلیک کړ، چې بیا د پخواني ولسمشر کرزي او افغان ولس د تونډو غبرګونونو له امله وځنډول شو.

۱۳ ـ د کونړ اوبو پر سر د هوکړې چارې هم د غني په حکومت کې له پاکستان سره وروستۍ شوې.

۱۴ ـ د لومړي ځل لپاره د افغان ملي اردو افسران د پنجاب تعلیمي مرکزونو ته د ډاکتر غني په حکومت کې واستول شول.

۱۵ ـ هغه پوستې چې تر ۲۰۱٦ میلادي کال پکې امریکایي پوځیان اوسېدل او هغه د ډیورنډ په اوږدو کې د اوسني افغانستان برخه وې، دا ټولې سیمې او هلته تاسیس شوې امریکایي اډې امریکا داسې مهال د پاکستان پوځ ته وسپارل، چې ډاکتر غني واکمن و او له ټولو جریاناتو خبر و، ولې غوږ یې پرې ونه ګراوه.

۱٦ ـ د ډاکتر غني د حکومت له پیله تر همدا ننه د پاکستان پنجابي پوځ هره ورځ افغان خاوره (کونړ او خوست ولایتونه) پر راکټونو ولي، مګر حکومت پرې چوپه خوله او داسې ښکاري لکه دغه سیمه چې د سهیلي افریقا برخه وي.

د دې خلاف طالبانو نه یوازې د ټولو هغو تهمتونو او ابتراوو چې پرې تر ننه لګېدلې، یوه لوېشت خاوره هم پاکستان ته نه ده ورکړې، بلکې نورې معاملې لکه د ډیورنډ رسمیت، د دروازو جوړېدل، د تورخم باډر کېدل، استخباراتي قراردادونه، د جي اېچ کیو مرکز ته تګ او په ټاکنو کې له پنجابه همکاری خو پرېږده. پر همدې بنسټ هغوی چې یوازې د ګرد افغانستان قباله یې پنجاب او امریکا ته نه ده ورکړې او نور هېڅ یې د پنجاب او پردو بادارانو لپاره بې معاملې نه دي پرې ایښیې، بلکې پر مقابل طرف د الزام لګولو پر مهال دې لږ تر لږه خپل تور او له پوښتنو ډک کرکټر وګوري او بیا دې قضاوت وکړي.

# وکیلان: د فساد او کمزوري مدیریت له امله د افغانستان او امریکا اړیکې ترینګلې شوې دي



د ملي یووالي حکومت د کمزوري مدیریت له امله په دې وروستیو کې د امریکا او افغانستان ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې دي. امریکا د افغانستان ستر مرستندویه او ملاتړی هېواد دی او له دغه هېواد سره د افغانستان اړیکې قوي مدیریت ته اړتیا لري. په دې وروستیو کې د افغان حکومت د کمزوري مدیریت او د لوړپوړو حکومتي چارواکو او ادارو ترمنځ د فساد موجودیت، دغه اړیکې په بېلابېلو برخو کې زیانمنې کړې دي. تازه امریکا له افغانستان سره سل میلیونه شوې مرسته بېرته ګرځولې او ٦۰ میلیونه یې ځنډولې ده. امریکا پر افغان حکومت دا تور هم پورې کړی، چې ګواکې فاسد دی او مشران یې له حکومتي صلاحیتونو ناسمه استفاده کوي.

په افغانستان کې روان وضعیت حساسې مرحلې ته رسېدلی دی. له یوې خوا ټاکنې، له بلې خوا په ټپه ولاړې د سولې خبرې او بل لور ته خونړۍ جګړې افغانان اندېښمن کړي دي. په دې مهمو شرایطو کې د افغان حکومت مشران د حکومت د مدیریت او اوضاع د سمولو پر ځای، پر ټاکنیزو کمپاینونو بوخت دي او له وظیفوي صلاحیتونو ناسمه ګټه پورته کوي. په همدې تړاو په دې وروستیو ورځو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د افغان حکومت پر مشرانو نیوکه وکړه. نوموړي وویل چې د ملي یووالي حکومت مشران له وظیفوي صلاحیتونو ناسمه استفاده کوي او د اداري فساد د موجودیت لپاره ځینې مرستې ځنډوي او ځینې نورې لغوه کوي.

په همدې تړاو امریکا د بنسټیزو پروژو لپاره سل میلیونه شوې مرسته لغوه کړې او ٦۰ میلیونه نوره یې د شفافیت تر راتګ پورې ځنډولې ده. مایک پامپیو دا هم ویلي وو، دوی د هغو رهبرانو پر وړاندې درېږي چې فساد کوي او د افغانستان خلک د امریکا له مرستو محروموي. نوموړي ویلي وو: ((حکومتي بنسټونه او د افغانستان د حکومت مشران باید شفاف او حساب ورکوونکي وي. موږ د هر هغه چا پر وړاندې درېږو، چې له خپل موقعیت او قدرت ناسمه استفاده کوي او د افغانستان خلک له بهرنیو مرستو محروموي)).

امریکا په وروستۍ یوه اونۍ کې د دوو بېلو اعلامیو په ترڅ کې په راتلونکو ټاکنو کې پر شفافیت او د پیسو په وسیله د رایو په نه اخیستلو او ترڅنګ یې د تدارکاتو په ملي کمېسیون کې د فساد موجودیت له امله اندېښنه څرګنده کړې. بلخوا د چارو شنونکي د امریکا لخوا پر افغانستان د مرستو بندېدو ته په اشارې وایي، چې د افغان حکومت د ناسم مدیریت، عدم شفافیت او نورو نیمګړتیاوو له امله د کابل او واشنګټن مناسبات هم ترینګلي شوي دي. د چارو شنونکی جاوید کوهستاني وایي: ((په دې کې شک نشته چې د مرستو قطع کېدل او د اړیکو خرابېدل د افغانستان پر وضعیت او خلکو باندې منفي اغېز لري. دا هر څه د ناسم مدیریت له امله رامنځ ته شوي)).

په ورته وخت کې د ولسي جرګې غړي هم د امریکا لخوا پر افغانستان د مرستو بندېدل د افغان حکومت کمزوری مدیریت یادوي او وایي، افغان حکومت په ښې حکومتولۍ کې پاتې راغلی. د ولسي جرګې غړې سائېره شریف وایي: ((حکومت په خپلو ژمنو کې پاتې راغلی دی. حکومتي مشرانو ژمنه کړې وه، چې فساد به له منځه وړي، خو دوی په دې ژمنه کې بریالي نه شول)).

د ولسي جرګې غړي دغه راز وایي چې په افغان حکومت کې روان فساد په نړیواله کچه د افغانستان باور ته زیان رسوي. د ولسي جرګې غړی رییس عبدالخالق وایي: ((نړیوال دلته د خپلو مرستو له ضایع کېدو وېره لري. دوی چې څه ورکوي حساب یې غواړي، خو دلته داسې مرجع نشته چې دوی قانع کړي. فساد د افغانستان هویت ته زیان رسولی)).

د افغان حکومت پر کمزوري مدیریت نیوکې داسې مهال دي، چې افغانستان تر بل هر وخت د بهرنیو مرستو جذب ته اړتیا لري او دې ته اړ دی چې د سولې او امنیت په راتګ کې د پیاوړو هېوادونو ملاتړ له ځان سره ولري. خو افغان حکومت د ولس د تمې پر خلاف نه یوازې په کورنیو چارو کې کمزوری مدیریت لري؛ بلکې د نړیوالو مسایلو په برخه کې هم په ناسم او کمزوري مدیریت تورن دی.

# ټرمپ: پر ایران به د تاریخ تر ټولو سخت بندیزونه ولګول شي

د امریکا متحده ایالتونو پر ایران د سختو بندیزونو بل پړاو اعلان کړی، چې د ایران مرکزي بانک او د ملي پراختیا صندوق یې په نښه کړي دي.

د امریکا حکومت ویلي چې دغه کار یې تر هغه وروسته کړی، چې ایران د سعودي عربستان د تېلو پر تاسیساتو د برید تر شا لاس درلود.

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې دا په تاریخ کې تر ټولو سخت بندیزونه دي چې پر یوه هېواد لګول شوي دي.

ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې خبریالانو ته ویلي چې د هغه په باور له زغمه کار اخیستل د ډېر زیات قوت څرګندونه کوي او په دې ډول یې اشاره وکړه چې په سملاسي ډول د ایران پر ضد پوځي اقدام ته تیار نه دی.

ټرمپ ویلي: «موږ اوس د ایران ملي بانک تحریم کړی، دا د هغوی مرکزي بانکي سیستم دی، دا پر ایران تر ټولو په لوړه کچه بندیزونه دي».

ټرمپ تر دې خبرو وروسته د ملي امنیت له ډلې سره غونډه درلوده او د منځني ختیځ پر کړکېچ یې خبرې کړې دي.

د ټرمپ دا څرګندونې داسې مهال دي چې د سعودي عربستان د تېلو پر تاسیساتو د سپټمبر په ۱۴ مه برید وشو او ډېر مالي زیانونه یې واړول. که څه هم د یمن حوثیانو ادعا وکړه چې دغه برید دوی د سعودي پر مشرۍ د عرب ائتلاف د بمباریو په غبرګون کې کړی دی، خو سعودي عربستان او امریکا بیا ادعا کوي چې د دغه برید تر شا د ایران لاس و. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر دې وړاندې خبرداری ورکړی و، چې د ځېړنو تر بشپړېدو وروسته تیار دي چې ایران ته د دغه برید سخت ځواب ورکړي، خو اوس نوموړی له خپلې دغې پرېکړې په شا شوی دی.

بل خوا بیا ایران په دغه برید کې لاس لرل رد کړي او خبرداری یې ورکړی چې که د دغه هېواد پر وړاندې هر ډول پاروونکی اقدام وشي، کلک ځواب به ورکړي.

تازه د ایران د سپاه پاسداران ځواک مشر حسین سلامي په یوه وینا کې ګواښ کړی، چې که هر څوک پر ایران برید وکړي، هېواد به یې د جګړې پر اصلي ډګر بدل شي.

هغه ویلي، ایران تیار دی چې هر یرغلګر ته کلک ځواب ورکړي او له هېڅ ګواښه وېره نه لري. نوموړي زیاته کړې، یرغلګر دې پوه شي چې ایران یې د نړۍ په هېڅ ګوټ کې هم په کراره نه پرېږدي.

# الفلاح خصوصي پوهنتون

حمیدالله حمیدي




د الفلاح خصوصي پوهنتون د بنسټ ډبره په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته، د هېواد په ختیځ ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار کې د الفلاح لوړو زده کړو خصوصي موسسې په نوم په (۱۳۹۰) لمریز کال کې کېښودل شوه. د لوړو زده کړو وزارت لخوا د دغه پوهنتون د علمي فعالیتونو تر ارزونې وروسته، یاد پوهنتون په (۱۳۹۵) لمریز کال کې د (الفلاح د لوړو زده کړو خصوصي موسسې) څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړه. د دغه پوهنتون رییس ښاغلی معشوق سادات وایي، الفلاح پوهنتون په لومړي سر کې یوازې درې پوهنځي درلودل، چې د وخت په تېرېدو او د علمي چوپړتیاوو په ښه کېدو او پراخېدو سره یې، د لوړو زده کړو وزارت د لزوم دید پر بنسټ، د نورو پوهنځیو د تاسیس جواز هم تر لاسه کړ. دغه علمي بنسټ اوسمهال پنځه پوهنځي (انجنیري، اقتصاد، ژورنالېزم، شرعیات او قانون او حقوق او سیاسي علوم) لري، چې له یادو پوهنځیو څخه یې زرګونه محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د الفلاح پوهنتون په فعالو پنځو پوهنځیو کې اوسمهال ۴۳۰۰ محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۲۸۰ یې ښځینه محصلینې دي. ښاغلی سادات وایي، د ښځینه محصلینو لپاره بېلې ښځینه استادانې لري، چې د تدریس چارې یې د هغوی له لوري مخ ته وړل کېږي. د دې تر څنګ، د ښځینه محصلینو لپاره ځانګړې اداره لري او هغه برخې چې د محصلینو اړوند کېږي، چارې یې د ښځینه کارکوونکو له لوري مخ ته ځي. د دغه پوهنتون له پنځو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې څلور دورې محصلین فارغ شوي، چې شمېر یې شاوخوا ۳۰۰۰ کسانو ته رسېږي. ښاغلی سادات وایي، په فارغ شویو محصلینو کې ښځینه او نارینه دواړه شامل وو، چې اوسمهال د هېواد په بېلابېلو ادارو کې پر دندو بوخت دي.

د الفلاح پوهنتون رییس وایي، په پنځو فعالو پوهنځیو کې یې د تدریس چارې د ۱۰۸ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ۹۵ سلنه یې دایمي استادان دي. سادات وایي، ډېری استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري، چې له دې ډلې اووه یې ښځینه او پاتې ۱۰۱ یې بیا نارینه استادان دي. په دې پوهنتون کې د ورځې په دوو وختونو او څلورو دورو کې تدریس کېږي، چې محصلین کولی شي د کار تر څنګ، له خوښې سره سم په ټاکلي وخت کې هغه که د سهار لخوا وي او یا هم وروسته له غرمې، خپلو زده کړو ته حاضر شي.

د الفلاح پوهنتون کتابتون په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د پوهنتون له تاسیس سره سم، د محصلینو د مدیریت په اهتمام تاسیس شوی دی چې پر اقتصاد، ژورنالېزم، انجنیرۍ، شرعیاتو، حقوقو او سیاسي علومو سربېره، په نورو بېلابېلو برخو کې په پښتو، دري ،عربي او انګلیسي ژبو په هارډ او سافټ بڼه، زرګونه کتابونه لري. د پوهنتون رییس وایي، د کتابتون د لا غني کولو لپاره یې هڅې روانې دي چې پر تخصوصي برخو سربېره، د کتابتون نورې علمي برخې هم غني کړي، څو محصلین او استادان وکولی شي په اسانۍ سره خپلې څېړنې پکې بشپړې کړي او مطالعه پکې وکړي. نوموړی وایي، اوسمهال په خپل کتابتون کې د ۱۵ زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه لري. محصلین کولای شي هره ورځ د سهار له شپږو د غرمې تر دوولسو او د ماسپښین له دوو د ماښام تر اتو بجو پورې په ارامه فضا کې خپله مطالعه وکړي.

الفلاح پوهنتون د کتابتون تر څنګ، د حقوقو پوهنځي د محصلینو لپاره یو حقوقي کلینیک لري، چې د دې پوهنځي محصلینو ته پکې عملي زده کړې ورکول کېږي. د دې تر څنګ یې د محصلینو لپاره یو کلپ جوړ کړی چې محصلینو ته پکې تقویتي روزنه ورکول کېږي او اړیکې او مهارتونه یې پکې پیاوړي کېږي. الفلاح پوهنتون د خپلو محصلینو لپاره د انټرنېټ اسانتیا هم برابره کړې ده چې محصلین کولی شي، هغه موضوعګانې چې په کتابونو کې د لاسرسي وړ نه وي، د انټرنېټ له لارې ولټوي او ګټه ترې واخلي.

د علمي پروګرامونو د اهدافو د پلي کولو او د وخت د تقاضا پر بنسټ، د نوې ټکنالوژۍ د وسایلو د کارونې په موخه، د الفلاح پوهنتون د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه په ۲۰۱۲ میلادي کال کې جوړه شوې ده. محصلین کولی شي د پوهنتون ټولو هغو برخو ته چې د دوی اړوند کېږي، د یوه پرمختللي ډېټابېس له لارې لاسرسی ولري.

دغه پوهنتون د تخفیف او سکالرشیف برخې هم لري. د ښاغلي معشوق سادات په خبره، هغه کسان چې د پوهنتون په کچه په لومړي مقام کې راځي، هغوی کولی شي په وړیا ډول خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. دغه راز هغه محصلین چې د پوهنځیو په کچه په لومړي مقام کې راځي، ۶۰ سلنه تخفیف ورکول کېږي او هغه کسان چې بیا د ټولګي په کچه لومړی مقام خپلوي، هغوی بیا په ۵۰ سلنه تخفیف خپلو زده کړو ته ادامه ورکولی شي. ښاغلی سادات وایي، د دې تر څنګ، هغه ځوانان چې اقتصاد یې کمزوری وي او زده کړو ته لومړیتوب ورکوي، د هغوی لپاره یې ډونران پیدا کړي، څو خپلو زده کړو ته د هغوی پر مټ ادامه ورکړي. خپله د پوهنتون اداره هم ځانګړی تخفیف لري، چې محصلین ترې برخمن کېږي.

ډېری هغه کسان چې له خصوصي پوهنتونونو او یا هم د لوړو زده کړو له موسسې فارغېږي، یوه اندېښنه ور سره د خپلو تحصیلي اسناد د تر لاسه کولو وي. د الفلاح پوهنتون رییس وایي، د محصلینو د تحصیلي اسنادو هغه برخه چې په پوهنتون پورې اړوندېږي، دوی یې په اړه پر وخت اقدام کوي او ټول اړین توکي ورته برابروي، څو محصل وکړای شي له خپلو اسنادو څخه د دندې پیدا کولو او نورو برخو کې ګټه واخلي؛ ځکه دوی په خپله اداره کې یو پرمختللی ډېټابېس لري چې له مخې یې په ډېر شفاف او چټک ډول د محصل اړوند اسنادونه لوړو زده کړو وزارت ته په ډېر کم وخت کې سپاري. معشوق سادات مني چې ځینې وخت د خصوصي پوهنتونونو د محصلینو تحصیلي اسنادونه په لوړو زده کړو وزارت کې یو څه ځنډېږي او د ځنډ لامل یې هم د خصوصي پوهنتونونو په ریاست کې د کارکوونکو د شمېر کموالی په ګوته کوي.

د دغه پوهنتون اداره د خپل ستراتیژیک پلان له مخې غواړي د پوهنتون په چوکاټ کې د ماسټرۍ پروګرام هم رامنځ ته کړي، چې د رییس په خبره یې په دې برخه کې یې لوړو زده کړو وزارت ته خپل وړاندیز لا له وړاندې سپارلی دی. دغه راز د دې تر څنګ، هڅه کوي چې د هېواد په کچه د یوه ملي پوهنتون په توګه فعالیت وکړي او د کار مارکېټ او پوهنځیو ته په کتو، معیاري کریکولم ولري او محصلینو ته په نوي میتود تدریس وکړي.

د دغه پوهنتون اداره د خصوصي پوهنتونونو په مخکې تر ټولو لوی پروت خنډ په تېرو څلورنیمو کلونو کې په دې سکتور کې د نویو بنسټونو رامنځ ته کولو یا پرمختګونو لکه د نویو پوهنتونونو نه جوړېدل، د نویو پوهنځیو نه تاسیس، پوهنتونونو ته د موسسو نه ارتقاع، د پوهنتونونو د څانګو نه جوړېدل او یا هم د ماسټرۍ پروګرامونو نه پیلېدل بولي. ښاغلی سادات وایي، اوسمهال ټول پوهنتونونه له افغان حکومت څخه غواړي چې په دې برخه کې پر خصوصي پوهنتونونو دغه بندیز له منځه یوسي، څو خصوصي پوهنتونونه نور هم پرمختګ وکړي.

## د کتاب خبرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

**څلورم څپرکی**
**د وزیرستان جګړه**




**اېډیولوژي او د عمل لار**

د پاکستاني طالبانو ډېری غړي د جمعیت علماء اسلام د مولانا فضل الرحمن له ځانګې سره یو ځای شول. دې دېوبند پلوه سیاسي ګوند په لوېدیځ پاکستان کې هم ټاکنیزې بریاوې خپلې کړې او هم له ناکامیو سره مخ شوي وو، خو دې ډلې هېڅکله هم د نورو دېوبند پلوه ډلو په څېر تاوتریخوالی نه کاوه، د بېلګې په توګه یوه ډله هم د پاکستان سپاه صحابه وو چې تل یې تاوتریخوالي او تفرقې ته لمن وهله.

په ۲۰۰۰ز کال، شمالي وزیرستان کې حافظ ګل بهادر د جمعیت علماء اسلام د مولانا فضل الرحمن د ځانګړو زده کوونکو د برخې مشري کوله. د پاکستاني طالبانو تحریک د سویلي وزیرستان مشر، ولي الرحمن محسود تر هغه وړاندې چې په ۲۰۰۴ز کال له طالبانو سره یو ځای شي، د دې ګوند غړی و. دا دوه تنه چې له طالبانو سره یو ځای شول، ډېری وختونه به یې له خپلو ملګرو سره د دېوبندي افراطیت له مخې شیعه ضد بریدونه کول چې تر ډېره یې د پنجاب او سیند ولایتونو له هغو سرسختو مشرانو سرچینه اخیسته چې په ورته مدرسو کې یې زده کړې کړې وې. ډېر پاکستاني طالبان د القاعدې له تکفیري سلفېزم سره جوړ راغلي وو، خو په افغانستان کې طالبان د دې لارې سخت مخالف وو. په ۲۰۱۰ز کال د پاکستاني طالبانو د تحریک یوه رساله کې داسې لیکلي وو:

((د الله ج په برکت، هغه طالبان چې د الله ج په لاره کې خپل سر قربانوي، د هغو طالبانو په پرتله چې نه یې قربانوي د الله ج له رحمت ډېر برخمن دي. په دې نړۍ کې زموږ د شریعت او شهادت وروستۍ موخه د پاکستاني واکمنانو او پوځیانو سرکوبول دي. نړۍ په دې پوهېږي چې د پاکستان پوځ، استخبارات او تش په نوم د ولسواکۍ لوبغاړي په پاکستان کې د شریعت د پلي کېدا پر وړاندې لوی خنډ دي. موږ غواړو چې د اوسني شیطاني سېسټم پر ځای شریعت پلی کړو. که تاسې غواړئ چې د زاړه کور پر ځای نوی جوړ کړی، نو لومړی اړ یاست چې زوړ کور وران کړئ، ځکه نو موږ باید لومړی زوړ شیطاني سېسټم وران کړو، څو مو د شریعت د پلي کېدو خوبونه رښتیا شي.))

په وزیرستان کې طالبانو ډېرې خپرونې او لیکنې نه خپرولې، خو هغه څه چې یې خپرول، د بېلابېلو ډلو لپاره یې اېډیولوژیک، د ټولنې لپاره د هغوی د لرلید او کاري لوري په اړه معلومات وړاندې کول. په اکثرو قبایلي سیمو کې د جګړې پر مهال جرم کول د طالبانو د ستراتیژۍ یوه برخه وه، ځکه غوښتل یې له دې لارې خلک ووېروي او ملاتړ یې تر لاسه کړي، خو دا پېچلې لوبه به کله نا کله د طالبانو د کادري جګړه مارو په وژلو پای ته رسېده.

د ۲۰۰٦ز کال په سپټمبر میاشت کې، د شمالي وزیرستان په میرام شاه کې د طالبانو ډلو له لوري د ګډ امنیت یو دفتر پرانیستل شو. دا کار یې ځکه وکړ چې په هغه مهال د مخ پټو کسانو له لوري د قومي مخورو د وژلو لړۍ خورا ګړندۍ روانه وه. د شمالي وزیرستان د مجاهدینو د شورا او امیر په یوه اعلامیه کې لیکل شوي وو: ((موږ په ټولیزه توګه د مخ پټو کسانو پر ګرځېدو بندیز لګولی. هر څوک چې مخ پټی کس ویني، ژر تر ژره دې زموږ له دفتر سره اړیکه ونیسي. که مو ولیدل چې هغوی له خلکو سره ظلم کوي او یا یې وژني، تاسو یې ازادانه وژلای شئ. مسئولیت یې زموږ پر غاړه دی.)) کله چې د راه نجات د عملیاتو په ترڅ کې پاکستاني طالبان د پوځ له لوري شمالي وزیرستان ته په شا شول، د هغوی مشر حکمت الله محسود د یوې خبرتیا خپرولو له لارې خپلو پلویانو ته ګواښ وکړ چې په هېڅ ډول جرمونو کې به ونډه نه اخلي. هغه لیکلي وو: ((زه د پاکستاني طالبانو د تحریک پر ټولو مجاهدینو امر کوم چې له انسان تښتونې، ستونزو جوړولو، په ځایي مسائلو کې له لاسوهنو او په شمالي وزیرستان کې له نورو جرمونو ټینګه ډډه وکړي. هر څوک چې له دې امر څخه سرغړونه کوي، جزا به ویني.))

په وزیرستان کې د طالبانو له راپورته کېدو سره، د «طالب» ډلو علاقه دا وه چې د «قوم» او «دولت» دندې اجراء کړي. له دې سره د پاکستاني حکومت د سیاسي استازو او قومي مخورو رول کمرنګه شو. د حکومت ځایي استازو او قومي مخورو به ځایي شخړې د جرګې د منځګړیتوب له لارې حلولې. قومونو به د جرمونو د مخنیوي لپاره د جرګې پرېکړې پلي کولې.

طالبانو د خپلو حکمونو په ورکولو سره پر ټولنیز ژوند کنټرول لګولی و. وزیرستان کې د ۲۰۰٦ز کال، د مجاهدینو په یوه اعلامیه کې لیکل شوي وو: ((بازار کې هېڅوک نامناسب انځورونه نشي ساتلای، وېډیوګانې نشي کتلای او نه هم میوزیک اورېدلای شي. نایان نشي کولای چې په خپلو دوکانونو کې د فلمي نارینه او ښځینه لوبغاړو انځورونه ولګوي. همداراز نایان نشي کولای د خلکو ږیرې وخریي او یا یې لنډې کړي. عامو وګړو ته د پوځیانو سټایل وېښتان جوړول هم منع دي. هر ډول سرغړونه به د شریعت له مخې مجازات شي.)) هغوی په خپله اعلامیه کې یو بل ګواښ هم کړی و: ((هر څوک چې له پاکستاني پوځ، هوایي ځواک او بله کومه اداره کې دنده واخلي، جزا به یې مرګ وي.)) د ۲۰۰۸ز کال په اګسټ کې هغوی خپله اعلامیه کې امر کړی و چې هېڅوک نشي کولای، پر افغان سوداګرو اوړه وپلوري، که یې وپلورل جریمه به ورکوي.

**دوام لري...**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## د اسلام د سپیڅلي دین له نظره د ټاکنو ارزښت

ټاکنې د مسلمانانو له پاره د دیني او ملي واک او ځواک هغه نښه بلل کیږي چې مخینه یې د اسلامي تمدن او آن د اسلام له ظهور سره تړلې ګڼل کیږي. د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی (ص) ټولو مسلمانانو که ښځینه دي که نارینه د بیعت تر سر لیک لاندې په ټولو سیاسي او ټولنیزو چارو کې بلنه ورکړې او هغوی یې د خپلو مشرانو بیعت کولو ته رابللي دي، موږ ویلای شو د نورو دینونو او مذاهبو څخه په اسلام کې د خلکو وګړني حقونو ته له پخوا نه بامل‌رنه شوې او خوندي شویدي.

سره له دې چې ځیني کسان داسې انګیري چې ټاکنې پر ننیو اصولو سره چې په ولسواکه ټولنو کې دود دي؛ یوه نوې پدیده ده، خو د اسلام په مبین دین کې داسې حکمونه او سنتونه شته چې که هغه تر ځیرنې او ارزونې لاندې ونیول شي نو د ټاکنو په تړاو ډیر داسې شیان شته چې د اوسنیو ټاکنو سره نیغ په نیغه اړخ لګوي. د اسلام په مبارک دین کې د دغو حکمونو نښې په هغو کسانو کې ولیدل شوې چې په هغوی کې د تمدن او پرمختګ هیڅ نښې نښانې نه وې لیدل شوې، دا خبره د دې ښکارندویي کوي چې الهي دین د مشر او رهبر په ټاکلو او نورو مهمو ملي او نړیوالو مسایلو ته زیاته پاملرنه لرله.

د ټاکنو په تړاو حکمونه کولای شو په ټوله کې پر دریو برخو کې تر غور لاندې ونیسو: «شورا»، «اجماع» او «بیعت». او کله چې قران، سنت او اسلامي تاریخ مطالعه شي، هلته ډیر داسې شیان شته چې په ټولنیزو مهمو چارو کې د شورا او مشورو ورکولو په اړه لازمي لارښونې شوي. سره له دې چې رسول اکرم (ص) په خپله نیغ په نیغه د وحې له مخې دستور تر لاسه کاوه، خو په ډیرو ملي او دنیوي مسلو کې یې بیا له صحابه و سره مشورې کولې او تر ټولو غوره نظر به هغه ته د منلو او پلي کولو وړ و. د دې کار اصلي موخه دا وه چې د مسلمانانو په منځ کې د مشوره کولو دود پیاوړی شي او مسلمانان باید پر دې وپوهیږي چې په هره چاره کې له یو بل سره مشوره وکړي.

### د اسلام د څلورم خلیفه "کرم‌الله وجهه" له قوله په ټاکنو کې یو لړ ځانګړتیاوې

د اسلام د څلورم خلیفه حضرت علي "کرم‌الله وجهه" له قوله د ټاکنو اصل مانا په خپلو ژمنو عمل کولبیان شویدي، سیاسي کارپوهان وایي د حکومتونو پایښت تر ډیره د چارواکو په هغو ژمنو دریدل دي چې له ولس سره یې کړې وي؛ ځکه هغه ژمنې چې واکداران یې له خلکو سره کوي او تر ډیره یې د پوره کولو له پاره قسم هم یادوي، نو له همدې امله د خلکو په زړونو کې ځای مومي چې له امله یې د نظام پایښت ته هم ګټه رسوي.

همدا اوس په افغانستان کې ټول اوسیدونکي، که نارینه وي که ښځینه، شتمن وي که نیستمن، بې سواده وي که باسواده، حکومتي وي یا عادي وګړي، خو چې د رای ورکولو له پاره یې شرایط پوره کړي وي، حق لري چې په ټاکنو کې برخه واخلي او د خپل هیواد د سیاسي برخلیک په ټاکلو کې رغنده ونډه واخلي.

**د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شمیرې ته زنګ ووهئ.**

معلوماتي پاڼه ۱

www.iec.org.af AfghanistanIEC

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه ولسمشریزې ټاکنې

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۸ کال د تلې په شپږمه نیټه چې د ( ۲۰۱۹ کال د سپتمبر له ۲۸) سره سمون خوري، ولسمشریزې ټاکنې ترسره کوي. ولسمشریزې ټاکنې، ډیرې ارزښتناکې او برخلیک ټاکونکې ملي ټاکنې بلل کیږي، چې په افغانستان کې د نوي ولسمشر د ټاکلو له پاره په هرو پنځو کالو کې یو ځل ترسره کیږي. د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون له مخې د هیواد هر اوسیدونکی چې په شرایطو برابر وي، کولای شي د دغې مهمې څوکۍ د خپلولو له پاره ځان دغو ټاکنو ته ونوموي. د دغه پست کاندیدان، د ولسمشرۍ څوکۍ له پاره باید د ټولو قانوني رایو څخه پنځوس جمع یوه رایه خپله کړي که چیرې داسې و نه شي، د ولسمشریزو ټاکنو دوه تنه هغه کاندیدان چې تر نورو هغو یې زیاتې رایې اخیستې وي، د ټاکنو په دویم پړاو کې په خپلو کې سیالۍ ته وځي او رای ورکونکي هغوی ته خپلې رایې کاروي.

### په ټاکنو کې د درغلیو د مخنیوي په اړه تدبیرونه

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ژمن دی چې د روان کال د تلې په شپږمه نیټه ترسره کیدونکې ولسمشریزې ټاکنې به په رڼه، خپلواکه، عادلانه او سرتاسري توګه ترسره کړي. کمیسیون د درغلیو او ټاکنیزو سرغړونو د مخنیوي له پاره کوټلي ګامونه پورته کړي، چې په بایومتریک سیستم (د ګوتې نښه، عکس او څیره) په کې اخیستل کیږي او د رای ورکولو پر ورځ د رای ورکونکو د ګوتو رنګول، په داسې مارکر چې (دلیدو وړ نه وي)، دا رنګه دغه بهیر د کورنیو څارونکو (پر ټاکنو د څارونکو بنسټونو، د نوماندانو، سیاسي ګوندونو او ائتلافونو د څارونکو) رسنیو او نړیوالو کتونکو له خوا چې کمیسیون ورته باور لیکونه ورکړي څارل کیږي. نو خلک او نورې اړونده خواوې باید د ټاکنو، د پر وخت ترسره کولو، رڼو، عادلانه او له سرغړونو او درغلیو څخه د پاکو ټاکنو له امله ډاډمن واوسي.

### په ټاکنو کې د خلکو پراخ ګډون

د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون له مخې، ټول په شرایطو برابر کسان د رای ورکولو په برخه کې برابر حقونه لري، او د هرکس رایه له برابر ارزښت څخه برخمنه ده. نو د ټولو رای ورکونکو له پاره، پرته د جنسیتي، قامي، مذهبي، دیني، ژبنیو او سیمه یزو تعصبونو، د دې زمینه برابره شوې چې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې برخه واخلي او په خلاص مټ د خپلې خوښې وړ کاندید ته رایه ورکړي چې په دې توګه خپله ملي وجیبه تر سره کړي.

**رای ورکونکي باید لاندې شرطونه ولري:**

- د افغانستان تابعیت ولري.
- د ټاکنو په ورځ یې اتلس کلنۍ عمر بشپړ کړی وي.
- په ټاکنو کې یې د رای ورکونکي په توګه خپل نوم ثبت کړی وي.
- د قانون یا محکمې په حکم له مدني حقوقو څخه محروم شوی نه وي.

د ټاکنو پر ورځ د ټاکنو بهیر، د سهار په اوو بجو پیل او د مازدیګر تر دریو بجو پورې به روان وي. رای ورکونکي کولای شي چې په ټاکلې ورځ او ټاکل شوي وخت د رای ورکولو مرکزونو ته ورشي او د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکړي.

**د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شمیرې ته زنګ ووهئ.
ستاسو رایه، ستاسو راتلونکې**

معلوماتي پاڼه ۱

www.iec.org.af AfghanistanIEC

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۵,۸۵ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹٦,۹۰ |

## شهزاده مسعود: د امریکا او طالبانو خبرې بیا پیلېږي، خو پکار ده چې ورسره یو ځای بین‌الافغاني خبرې هم پیل شي



په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو د بیا پیل شونتیا زیاته شوې، په افغانستان کې شنونکي وایي چې پکار ده د دې خبرو له پیل سره په یو وخت بین‌الافغاني خبرې هم پیل شي.
د پخواني ولسمشر حامد کرزي سلاکار شهزاده مسعود وایي، د امریکا او طالبانو ترمنځ به خبرې بیا پیل شي، خو پکار ده چې د افغانانو اندېښنو ته پام وشي او له دې خبرو سره په یوه وخت بین‌الافغاني خبرې هم پیل شي. مسعود مسیر ورځپاڼې ته وویل چې په تېرو خبرو کې اندېښنه دا وه چې امریکا او طالبان به توافق وکړي، خو بین‌الافغاني خبرې به له ځنډ او خنډ سره مخ وي. نوموړي زیاته کړې: «له یوه اړخه حکومت پلاوی نه ټاکه، له بله اړخه معلومه نه وه چې دا خپلمنځي خبرې به کله پایله ورکوي، همدا اندېښنه وه او پکار ده چې د خبرو د بیا پیل لپاره دې اندېښنې ته پام وشي».
مسعود پر دې باور دی چې را روانې ټاکنې به له ستونزو ډکې وي، ډېر خلک به پکې ګډون ونه کړي او پایله به یې خلکو او ځینو کاندیدانو ته د منلو وړ نه وي. نوموړی وایي چې همدا چاره به پر لانجه بدلېږي او موږ سم لوري ته نه ورېږي. د مسعود په خبره، پکار ده چې د سولې د خبرو لپاره دا ټاکنې وځنډول شي.
نوموړي له مسیر سره په خبرو کې دغه راز وویل چې د یوې رښتینې سولې لپاره د کورني ولسي فشار ترڅنګ، د سیمو او سوله غوښتونکو هېوادونو فشار هم ګټور واقع کېدلی شي. مسعود وایي چې د روسیې، چین او نورو هېوادونو فشارونه زموږ په ګټه دي او که ښه استفاده ترې وشي، نو موږ یې پر امریکا او نورو هغو اړخونو د فشار لپاره کارولی شو، چې د سولې مخالفت کوي.

## ټرمپ: د نه اوربند کولو له کبله مې له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه کړې



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، وروسته له هغې چې طالبانو په افغانستان کې له اوربنده انکار وکړ، ده ورسره روانې خبرې اترې وځنډولې.
د امریکایي رسنیو د راپورونو له مخې، ولسمشر ټرمپ دغه څرګندونې د استرالیا له لومړي وزیر سکاټ موریسن سره د لیدنې پر مهال کړې دي.
ټرمپ زیاته کړې: «له طالبانو سره لیدو ته مې بشپړ چمتووالی درلود، خو کله چې پوه شوم هغوی اوربند نه کوي، ما وویل، نو ولې زحمت وباسو».
نوموړي دغه راز ویلي، طالبانو ګومان کاوه چې د خلکو وژل د قوت نښه ده، په ځانګړې ډول کله چې هغوی د یوه امریکایي په ګډون، په کابل کې دوولس کسان ووژل.
دغه برید د کابل ښار د نهمې امنیتي حوزې اړوند د شش درک پر سړک وشو. له دغه بریده وروسته ټرمپ په یوه ټویټ کې په قطر کې له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه اعلان کړې.
ټرمپ یو ځل بیا ویلي چې پر طالبانو یې بریدونه زیات کړي او دومره سخت ګوزارونه پرې شوي چې په تېرو ۱۹ کلونو کې سارې نه لري.
په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د بندو دروازو شا ته د امریکا کانګرېس ته له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتو په اړه معلومات ورکړي دي.
وروسته له هغې چې ټرمپ له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه اعلان کړې، ورسره سم په افغانستان کې د جګړې ډګر هم تود شوی چې هره ورځ پکې د وسله والو طالبانو او امنیتي ځواکونو سربېره، لسګونو ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله اوړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۲مه | ۴۳۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳٦ | ۳۱ | ۳٦ | ۳۱ |
| ۱۵ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۵ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۱۷ | لمر ختل ۰۵:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۴۷ | مازدیگر ۰۳:۱۵ | ماښام ۰۵:۵۳ | ماخوستن ۰۷:۱۷

## نړۍ



# ټرمپ: پر ایران به د تاریخ تر ټولو سخت بندیزونه ولګول شي

۳

## یونیسف: د نړۍ په جګړه ځپلو هېوادونو کې تېر کال ۲۹ میلیونه ماشومان زیږېدلي دي



لـه ماشـومانو د ملګرو ملتونـو د ملاتړ صندوق یا یونیسـف ویـلي، د نـړۍ پـه جګـړه ځپلـو سیمو کـې تېـر کال ۲۹ میلیونـه ماشـومان زیږېـدلي دي.

یونیسف ویـلي چـې دغـه ۲۹ میلیونـه ماشـومان د افغانسـتان، سـومالیا، جنـوبي سـوډان، سـوریې او یمـن پـه ګـډون، د نـړۍ په جګـړه ځپلـو هېوادونو کـې زیږېدلي دي.

یونیسـف پـه خپل راپـور کې ویـلي، احصایو ښـودلې چې د نـوو زیږېدلو ماشـومانو له یوې تـر پنځمې برخې د خپل ژونـد لومړنـۍ شـېبې پـه جګړه ځپلـو ټولنـو او له فشـار او خپګانـه پـه ډکـو ناامنو سیمو کې تېرې کـړې دي.

لـه ماشـومانو د ملګـرو ملتونـو د ملاتـړ ټولنـې د احصایـې مدیـرې هزیتـا فور ویلي چې هـره کورنـۍ بایـد د خپلو نوو زیږېدلو ماشـومانو لومړنـۍ شـېبې ونمانځـي، خو په خبره یـې چې زرګونـه کورنـۍ چـې د جګـړې او ښـتو تـر اغېز لانـدې سیمو کـې ژونـد کـوي او دوی له داسـې نمانځنو بې برخـې دي.

مېرمـن فـور ویـلي، پـه ډېـرو هېوادونـو کې تاوتریخـوالي او نښـتو د نوو زیږېدلو ماشـومانو او د دوی د کورنیو لاسرسی اسـاسي او مهمـو خدمتونـو ته ډېر محدود کړی دی.

پـه جګـړه ځپلـي یمـن کـې بیـا د یونیسـف اداري کارکوونکـي ویلي، چـې ځینـې واړه ماشـومان د چاودنو او بمـي غږونـو لـه وېـرې ځـان نـه شي کنټرولولی، لـه وېرې پـه سـاعتونو سـاعتونو رېـږدي او ویـښ پاتـې کېـږي.

د دوی پـه خبـره، پـه شـپه کـې د دغـو ماشـومانو ژړا او چیغـې اورېـدل کېـږي.


د ملګـرو ملتونـو پـه راپـور کـې یمـن د خوراکـي مـوادو د کمښـت پـه برخـه کـې د ماشـومانو لپاره یـو بېوزلـه هېواد ښـودل شـوی؛ ځکـه پـه دغـه جګـړه ځپلـي هېـواد کـې تر اتـو میلیونو پورې ماشـومان له خوارځواکـۍ سره مخ دي.

## د مصر په بېلابېلو ښارونو کې د ولسمشر السیسي پر ضد پراخ لاریونونه پیل شوي دي

د مصر په بېلابېلو ښارونو کې د دغه هېواد د ولسمشر عبدالفتاح السیسي پر وړاندې سخت لاریونونه روان دي.

تر ټولو زیات لاریون کوونکي د دغه هېواد د پلازمېنې قاهرې په تحریر میدان کې راټول شوي، چې د ولسمشر السیسي د استعفا غوښتنه کوي. تحریر میدان د ۲۰۱۱ میلادي کال د پاځون پر مهال ډېر مشهور شوی و، چې اوسمهال هم پکې ډېر لاریونوال راټول شوي او له پولیسو سره یې نښتې هم کړې دي.

دا لاریونونه د هېواد په نورو برخو کې هم شوي چې د ولسمشر السیسي په حکومت کې د پراخ فساد له کبله د نوموړي د استعفا غوښتنه کوي.



راپورنه وایي چې ورم ماښام ناوخته د مصریانو ترمنځ پر ټوېټر دا شعارونه لاس په لاس کېدل چې «سیسي دې ووځي» او «خلک غواړي چې رژیم نسکور کړي». که څه هم د مصر د پلازمېنې قاهرې تحریر څلورلارې کې د لاریونوالو د خورولو لپاره پولیسو له اوښکې بهوونکي ګاز څخه کار اخیستی، خو دوی لاهم پر دې نه دي توانېدلي چې لاریون کوونکي په بشپړه توګه له دغه ځایه وباسي .

دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۳ میلادي کال کې ښاغلی سیسي د مصر د لومړي ډیموکراټیک منتخب ولسمشر محمد مرسي د پوځ مشر شو، چې وروسته یې د لاریونونو مشري هم کوله او له هغه وروسته یې د یوې کودتاه له لارې مرسي له واکه لرې او ځان یې د دغه هېواد د ولسمشر په توګه اعلان کړ.

## مستور: نبود پول فزیکی باعث مصرف نشدن کامل بودجه بوده‌است



وزیر اقتصاد می‌پذیرد که نبود «پول فزیکی»، بیشتر باعث مصرف نشدن کامل بودجه‌های سالانه وزارت‌خانه‌ها بوده است.

مصطفی مستور، وزیر اقتصاد می‌گوید که فکر می‌کند امسال، این مشکل در وزارت مالیه وجود نخواهد داشت. وی افزود: «معمولاً بسیاری وقت‌ها، عدم موجودیت پول فزیکی یکی از مشکلات بوده؛ ولی من فکر می‌کنم که انشاالله این مشکل امسال در وزارت مالیه وجود نخواهد داشت».

اما نهادهای ناظر می‌گویند که نهادهای دولتی توان مصرف بودجهٔ شان را ندارد و در بسیاری موارد این بودجه‌ها معروض به فساد و معروض به مداخله‌های سیاسی استند.

ناصر تیموری، محقق دیده‌بان شفافیت افغانستان بیان داشت: «ما در دیده‌بان شفافیت افغانستان، بودجهٔ ملی افغانستان را از ده سال بدین‌سو نظارت می‌کنیم، نحوهٔ مصرفش را. بودجهٔ ملی افغانستان توانایی این را که بتواند منابع خارجی و منابع داخلی را به‌صورت مؤثر، شفاف و پاسخ‌گو به مصرف برساند، این توانایی را ندارد. پول‌هایی که به واحد عملیاتی ریاست‌جمهوری منتقل می‌شود و پروژه‌های انکشافی را روی دست می‌گیرند که از پروسه‌های رسمی دولتی انجام نمی‌شود؛ این پروسه‌ها همهٔ شان معروض به فساد و معروض به مداخله سیاسی استند».

این گفته‌ها تنها پس از پخش اعلامیهٔ وزارت خارجه امریکا دربارهٔ برگشت یک کمک صد میلیون دالری و نیز تعلیق یک کمک شصت میلیونی دیگر واشنگتن به کابل ابراز می‌شوند.

وزارت خارجه امریکا، افزون بر حساب‌دهی نهادها و رهبران افغانستان از کارهای‌شان به مردم و جهان، در اعلامیه دیگری، برگزاری یک انتخابات شفاف و با اعتبار را در کشور، نیز خواستار شده‌است.

به روز چهارشنبه، وزارت خارجه امریکا در اعلامیهٔ دیگری، از حکومت افغانستان و نهادهای دخیل در انتخابات ریاست‌جمهوری، خواست تا این انتخابات را به‌گونهٔ شفاف و با اعتبار برگزار کنند.

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی UNICEF تصمیم دارد تا بیجاشده‌گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت خوست درمرکز متون قریه زاگی، یک حلقه چاه برمه‌یی جهت دستری مردم به آب اشامیدنی صحی حفر نماید. انعده شرکت‌های که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ ( September 19, 2019) الی (September 24, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af